مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباری جهانی
۲۰۲۳/۱۲/۱۵

# امیر عبدالرحمن خان او د هغه د مرکزي حکومت د جوړولو پالیسي

## (لومړۍ برخه)

امیر شیرعلي خان (۱۸۶۹-۱۸۷۹) د خپلي لس کلني پاچهی په وروستیو شپو ورځو کي، د بهرني یرغل په مقابل کي، د انګلیسیانو د پوځي مرستي له څرګندي وعدې څخه مأیوس سو او د روسانو دوستی ته یې زړه ښه کړ. د برتانوي هند حکومت هغه وخت ډیر په غوسه سو چي امیر شیرعلی خان د روسیې هیات ته په کابل کي تود هرکلی ووایه او په مقابل کي یې د انګلیسیانو هیأت ته کابل ته د داخلېدلو اجازه ورنه کړه. انګلیسیانو، پرته له دې چي امیر ته د جواب ویلو لپاره یو څه مهلت ورکړي، هغه ته د ۱۸۷۸ کال د نومبر پر دوهمه اولتیماتوم ورکړ چي باید د نومبر تر شلمي پوري د برتانوي هند د حکومت انګلیسي هیات ته اجازه ورکړي چي کابل ته داخل سي. امیر شیرعلي خان، د روسیې څخه د مرستي اخیستلو په هیله، مزار شریف ته روان سو؛ او د کابل د سلطنت چاري یې خپل مشر زوی محمدیعقوب خان ته، چی تر دغه وخته پوري بندي وو، وسپارلې. امیر له مزار شریف څخه په روسي ترکستان کي د روسیې د امپراطورۍ د ګورنر جنرال کوفمان سره تماسونه ټینګ کړل خو له هغه څخه یې هیڅ مرستي تر لاسه نه کړې او د ۱۸۷۹ کال د فبروري په ۲۱ د ناروغی او مأیوسیت له امله وفات سو.

د انګلیسیانو قواوي ګندمک ته رسېدلي وې او یعقوب خان ته یې بلنه ورکړه چي په هغه ځای کي د دوی د قواوو مرکز ته د خبرو لپاره ورسي. یعقوب خان ګندمک ته ورغی او هغه شرموونکی او غیر عادلانه تړون یې، چي د ګندمک په نامه یادیږي، لاسلیک کړ. د دغه تړون په اساس یعقوب خان دا ومنله چي د برتانیې سفیر مېجر کیوناري Major Cavagnari ته به په کابل کي د، سفیر په حیث، د ماموریت اجازه ورکوي.

کیوناري د ۱۸۷۹ کال د جولای پر ۲۴ کابل ته ورسېدی. د سپټمبر پر دوهمه یې خپل مرکز کلکتې ته ولیکل چي هر څه په خیر دی. د سپټمبر پر دریمه، چي د ماموریت یې ایله یوه نیمه میاشت تېره سوې وه، د هرات شپږ کنډکه عسکرو، چي درې میاشتني باقیات یې غوښتل، د هغه پر کور باندي حمله وکړه او د ټولي عملې سره یې په اور کي وسوځاوه.

انګلیسي قواوو پر کابل باندي انتقامي حمله وکړه. یعقوب خان انګلیسیانو ته ځان تسلیم کړ. کابل بې سرپرسته پاته سو او د پردیو یرغلګرو پر ضد عمومي پاڅون پیل سو. انګلیسیان، د افغانانو سره د لومړي جنګ په څېر، روغي کولو او له افغانستان څخه وتلو ته مجبور سول. دا وخت امیر عبدالرحمن خان، چي دوولس کاله یې په بخارا او سمرقند کي په تبعید کي تېر کړي وه میدان ته راغی. انګرېزانو کابل ورته پرېښود او دی پاچا سو. څرنګه چي د افغانستان ټولو اولسونو د برتانوي استعمار په مقابل کي په جنګ او قیام کي برخه اخیستې وه نو د هر قوم او ډلي مشر د خپل قدرت په فکر کــي وو او د هــر یــوه په سر کي د پاچهی خیال وو. پخپله امیر عبدالرحمن خان لیکي:

«... هر آخوند او هر مُلا، د هر قوم او قلا سرکرده او مشر ځان پاچا باله او د افغانستان پاچاهانو، له څه باندي دوو سوو کالو راهیسي، د دغو اخوندانو او مُلایانو له خود سریو سره غرض نه وو کړی. د ترکستان میران او هزاره ګانو میران او د غلجیانو مشران تر پاچاهانو قوي ول او تر څو چي دغه ډول مشران په هیواد کی موجود وي نو پاچا نه سی کولای په مملکت کي عدالت قایم کړي. . . په بل فصل کي به زه ولیکم چي د دوو تنو قطاع الطریق، چي سادو او دادو نومېدل، او څو ځله یې زما پوځیانو ته ماته ورکړې وه، د نیولو لپاره مي څونه زیار وګالی. یو مي د اوسپني په یوه قفس کي واچاوه او اوس هم د لته بند د کوتل پر سر ځوړند دی. اکثرو دغو ملایانو خلکو ته عجیب او غریب عقاید بیانول او تلقینول چي د پیغمبر په احادیثو کي له سره موجود نه وه او همدغه بې ځایه او چټي عقاید دي چي په هر اسلامي مملکت کي د اسلامي ملتونو د سقوط او زوال سبب سوي دي. . . البته طبیعي ده چي څوک ځان پاچا بولي باید یوازي هغه له خپلو رعیتو څخه د مالیات اخیستلو واک ولري. نو زما لومړنی کار دا وو چي قطاع الطریق، غله او دروغجن اولیاء او جعلي پاچاهان ختم کړم. اعتراف کوم چي دا څه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

آسانه کار نه وو. ځکه چي ما له هغوی سره پنځه لس کاله په جنګونو کي تېر کړل او بالاخره يې زما اطاعت ومانه. ځيني مي تبعيد کړل او ځيني مړه سول» تاج التواريخ ص ص ۲۱۷-۲۱۸

امير عبدالرحمن خان د افغانستان په معاصر تاريخ کي تر ټولو مستبد پاچا وو. د هغه استبداد سرحد نه پېژندی. هغه هم د جنګ په ميدان کي قوماندان، هم پاچا او هم پخپله قاضي وو. بې سرحده استبداد په هيڅ صورت توجيه کېدلای نه سي. خو که د امير څخه مخکي دورو او حالاتو ته وګورو او يا امير هم، د اداري لپاره، د خپلو اسلافو لاره اخيستې وای نو هغه افغانستان چي د ده مخالف مورخين يې هم ښېګڼي بيانوي منځته نه سو راتللای. امير عبدالرحمن خان په دې عقيده وو چي د ده د هيوادوالو د ژوند د ټولو نيمګړتياوو او د ټولني د وروسته پاته والي اصلي علت د مرکزي حکومت نه موجوديت وو. هغه بايد دا حالت له منځه وړی وای او په دې لاره کي يې د خپلو اقداماتو او خپل قدرت په مقابل کي ټول خنډونه، په هره لار چي کېدل، له منځه وړل.

ځيني کسان په دې عقيده دي او داسي تبليغ کوي چي د امير عبدالرحمن خان استبدادي عمليات يوازي غير پښتنو او په تېره بيا هزاره ګانو ته متوجه وه او پر هزاره ګانو باندي يې بېحده ظلمونه وکړل. خو که، د امير په قول، د هغه پنځه لس کلنو داخلي جنګونو ته وګورو نو وينو چي پښتنو، او په تېره بيا غلجي قومونو، د هغه له لاسه، تر هر چا ډېره صدمه ليدلې ده. او موږ به وروسته يو څه تفصيل ورکړو. د امير عبدالرحمن له بې سرحده استبداد څخه د هغه خپله کورنۍ او د محمدزو قبيله هم په امان کي نه وه او ټول هغه سرداران او نور کسان يې بنديانول، شکنجه کول، اعدامول او تبعيدول چي له سردار محمدايوب خان او يعقوب خان سره او يا د ده د کاکا زوی سردار محمداسحق خان سره د تماس ټينګولو شک ورباندي کېدی. امير ټولو هغو کسانو ته سخته سزا ورکوله چي په کابل يا نورو ښارونو کي يې د انګليسيانو له استازي او يا د انګليسيانو د نمايندګی له کوم مامور سره خبري کړي او يا تماس نيولی وای. په افغانستان کي، د امير عبدالرحمن خان د استبداد تر ټولو مخالف مورخ مرحوم ميرغلام محمدغبار هم پر دې حقيقت باندي اعتراف کوي چي د امير د استبداد په نتيجه کي مرکزي دولت قايم او امنيت خوندي سو:

« د امير د سلطنت په دوره کي عمومي امنيت موجود وو. په بازارونو کي د حماسو نکلچيانو خلکو ته کيسي کولې او په جوماتونو کی مبلغينو د جهاد تبليغ کاوه. له بلي خوا د ښار د اوسېدونکو مختلف اصناف او کسب کاران په نڅا او ساز لګيا ول. په پايتخت کي محله خرابات د ساز او آواز او نڅا مرکز وو. د ښار په ميدانونو کي چوب بازي، پهلواني، قوچ جنګي او د راز راز مرغانو جنګول روان ول او خلکو آسونه ځغلول او شمشېر بازي او نېزه بازي يې کوله. سرد ار حبيب الله خان پوځي چاري او سردار نصرالله خان مالي چاري اداره کولې او له دوی څخه پرته د امير شخصي کورنۍ په هيڅ ډول حکومتي چارو کي لاس نه سوای وهلای. په عمومي صورت ويلای سو چي د امير هيڅ يوه زوی په داخل او خارج کي پانګه نه درلوده او يوازي په دولتي تنخوا او اعزازي رتبه يې قناعت کاوه. د هيواد په داخل کي، د امير سياست څرګند وو. هغه بې قيد او شرطه اطاعت غوښت او مخالفين يې د توري په زور ځپل »

له دې څخه مخکي په بل پراګراف کی ليکي: « امير عبدالرحمن خان له خلکو سره ژوند کاوه او له حرم څخه ګوښه وو. هغه شپه او ورځ په مردانه محيط کي اوسېدی. د لوبو او ملي ورزشونو ننداره يې کوله. د خلکو عرايضو ته يې غوږ نيوی او په ټولو ښارونو کي يې د شکاياتو صندوقونه، چي قلفونه وراچول سوي وه، ايښي ول؛ څو هر څوک چي هر شکايت لری هغه وليکي او په صندوق کي يې واچوي. دا صندوقونه په کال کي دوه ځله پرانيستل کېدل او محتويات يې امير ته ښودل کېدل. د دې صندوقونو د کيليو مسوول په دربار کي ميراحمدشاه خان وو. امير ورځپاڼه نه درلوده او خپل ټول اوامر او وضع کړي مقررات يې، د اعلانونو په ډول، په چاپي توګه، خپرول او خلکو ته يې رسول. ماليات يې، د امير شېرعلي خان د دورې په خلاف، د محصل په وسيله نه ټولول بلکه له محصل څخه يې يوازي د باقياتو په حصولولو کي کار اخيستی. يوه رساله يې چي ، مرآت العقول، نومېده خپره کړه او په هغې کي يې ښودلي وه چي دولت ته د مالياتو ورکول د مذهبي احکامو له مخي واجب دي. امير د حکامو او مامورينو ټول هغه شخصي لګښتونه منع کړل چي پيسې به يې له خلکو څخه اخيستلې؛ او خلکو ته يې اعلان وکړ چي هيڅ مامور ته، له مالياتو پرته، پيسې او جنس ورنه کړي. که چا دغو مامورينو ته کومه هديه ورکړې وای نو هغه مامور مجبور وو چي دولتي خزانې ته يې تحويل کړي. مامورين په ټينګه څارل کېدل او که يې شته مني زياته سوې وای نو هغه ورڅخه مصادره کېدله. که کوم مامور تېری کړی وای نو د محل له خکو څخه يې پوښتنه کوله او که شکايت موجود وای نو هغه مامور ته يې سزا ورکوله. دغه سزاوي به کله کله د خلکو په مخ کي او د کابل په چوک کي عملي کېدلې. پر دې برسېره يې د عهد نامې د اخيستلو لپاره يوه اداره تأسيس کړه او له مامورينو څخه يې تعهد اخيستی چي له خلکو او دولت سره به خيانت نه کوي او که يې خيانت وکړ نو ودي


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

وژل سي. امير په قندهار کي د خرقې بست، چي د مجرمينو پناه ګاه وه، مات کړ او د سردار عبدالله خان ورور محمديوسف خان تيموري يې را وايست او ړوند يې کړ. غبار، افغانستان در مسير تاريخ، جلد اول ص ۶۵۷

امير عبدالرحمن خان، په کابل او نورو ښارونو کي د انګليسيانو پر ضد د عمومي پاڅون او د انګليسيانو د ماتي څخه وروسته، چي هغوی يې وتلو ته مجبور کړل، قدرت ته ورسېدی. که چيري هغو بېحده ستونزو ته چي د امير عبدالرحمن خان د سلطنت په لومړيو شپو ورځو کي موجودي وې يو نظر وکړو نو پوهيږو چي دغه ډول شرايط په افغانستان کي ډېر لږ پيښ سوي دي. امير عبدالرحمن خان ليکي چي کله کابل ته ورسېدی نو لومړۍ او لويه ستونزه يې دا وه چي د اوسېدلو لپاره يې کور نه درلودی. دی وايي هغه آبايي کور مي، چي بالاحصار وو، د انګليسيانو لښکر خراب کړی وو او بل کور موجود نه وو. دی وايي دا به د نړۍ په تاريخ کي ډېره نادره يا حتی نه وي پيښه سوې چي يو پاچا د اوسېدلو لپاره کور ونه لري. تر څو چي د اوسېدلو لپاره مي يو کور جوړ کړ. تاج التواريخ ص ص ۲۲۱-۲۲

امير عبدالرحمن خان په داسي وخت کي د کابل د چارو واګي په لاس کي واخيستې چي هرات د سردار محمدايوب خان، کندهار د انګليسيانو د والي سردار شېرعلي خان، کنړ د سيدمحمودکنړي، ميمنه د دلاور خان په نوم يوه حاکم په لاس کي وه، چي د امير پر ضد يې تبلغيات او لمسوني کولې، بدخشان د مستقلو ميرانو په کنټرول کي وو. هزاره ګانو د هيچا قدرت ته غاړه نه ايښودله او غلجي قبايل که ټول ياغي نه ول نو لږترلږه ناراض او هر ګړی بغاوت کولو تيارول او په دې وخت کي دولتی خزانه داسي تشه وه چي هيڅ ډول حساب نه وربانديي کېدی. امير عبدالرحمن خان ليکي: « په سلطنتي خزانه کی يو دينار موجود نه وو چي يا د عسکرو معاش او يا د مامورينو تنخوا ورڅخه ورکړه سي. نه يوازي خزانه تشه وه بلکه خزانه عملاً موجوده نه وه. د مملکت ماليات، پخوا لا، شيرعلي خان، محمديعقوب خان او د انګليسيانو پوځ، له خلکو څخه د مرستي په نوم اخيستي يا يې د يوه يا دوو کالو ماليات، له وخت څخه مخکي، ورڅخه ټول کړي وه او ما نه سوای کولای چي له خلکو څخه ماليات واخلم . . . په کابل کي د شيرعلي خان د کورنۍ طرفدارانو او بې علمه ملايانو او غازيانو چي فقط د غازيانو نوم يې درلود او خلکو به تازيان بلل، زما پر ضد خلک پارول او ويل به يې چي زه کافر يم؛ ځکه چي زه د انګليسيانو دوست يم او هغوی کافران دي؛ نو هر مسلمان بايد زما پر ضد جهاد وکړي» هغه کتاب ص ص ۲۲۲، ۲۳

امير عبدالرحمن خان د ۱۸۸۱ کال د سپټمر په مياشت کي، سردار ايوب خان ته، په کندهار کي وروستی ماته ورکړه او هغه مهم ښار يې ونيوی. امير وروسته ليکي:

« ايوب خان د خراسان خواته وتښتېدی او مشهد ته ولاړ. فرامرزخان مي د سپرو، پياده او توپخانې سپه سالار کړ او امر مي ورته وکړ چي سمدستي هرات ته حرکت وکړي او پخپله مي په قندهار کي د کابل پر لور د حرکت کولو ترتيبات ونيول. يو له کاکړي ملايانو څخه چي آخوند عبدالرحيم بلل کېدی او زه يې کافر بللی وم د خرقې شريفې په بست کي پټ سوی وو. ما امر وکړ چي دغه ډول ناپاکه سپی بايد په هغه مقدس ځای کي نه وي؛ ځکه يې هغه له بست څخه را وايستی او ما په خپل لاس قتل کړ » هغه کتاب ص ص ۲۱۶-۲۱۷

د سردار ايوب خان او انګليسيانو ترمنځ د ميوند او کندهار د جنګونو او د امير عبدالرحمن خان په مقابل کي د هغه د ورستی ماتی ټول تفصيل په دې لنډ مضمون کي نه ځايیږي.

د سردار ايوب خان له ماتي څخه وروسته هرات او کندهار د امير عبدالرحمن خان تر کنټرول لاندي سول او د هغه دوهم مهم جنګ د کنړ د سيدمحمود سره وو. د کنړ سيد محمود، د افغانستان او انګليس د دوهم جنګ په پيل کي، د انګرېزانو سياسي استازي ليپيل ګريفين Lepel Griffin ته خپله وفاداري ښودلې او د جلال آباد او کنړ خلک يې د انګرېزانو سره له جنګېدلو څخه منع کړي او له هغوی سره يې دوستی ته تشويق کړي ول. سيد محمود د انګرېزانو استازي ته مشوره ورکړې وه چي افغانستان بايد پر لويو او کوچنيو ټوټو ووېشل سي او ټول د انګرېزانو تر تسلط لاندي سي او انګرېزان به تر هغه وخته پوری چي محمدجان خان او د هغه طرفداران له منځه وړل سوي نه وي د کراری مخ ونه ويني. ليپيل ګريفين د هغه له مشورو او د برتانيې په ګټه اقداماتو څخه بې اندازې خوشاله سو او هغه ته يې د کنړ سيمه وروبخښل او ۲۰ زره روپۍ تنخوا يې ورته مقرره کړه.

ليپيل ګريفين هغه ته وعده ورکړې وه چي انګرېزان به د هغه ملګري وي او له هغه سره به پر ټولو وعدو وفا وکړي. کله چي امير عبدالرحمن خان قدرت ته ورسېدی؛ ليپيل ګريفين له امير څخه وغوښتل چي انګليسيانو له سيد محمودسره ژمني کړي دي او که د کنړ سيمه هغه ته وسپارله سي نو انګرېزان به خوشاله وي. البته اميرعبدالرحمن خان په خپلو داخلي چارو کي د پرديو مداخله نه منله او د سيد محمود په باره کي يې د هند د ګورنرجنرال لارډ ريفن پر خبره هم غوږ ونه نيوی او تر هغه وخته پوری يې پر سيد محمودباندي پوځي عمليات وکړل تر څو چي هغه د برټانوي هند حکومت ته پناه يوړه او انګليسيانو هم د مياشتي ۲ زره روپۍ تنخوا ورته وټاکله. Kakar PP 88-91


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

امير عبدالرحمن د سيد محمود د ستونزي د نسبي حلېدلو څخه وروسته د شينوارو د مشکل سره مخامخ وو چي د پېښور او جلال آباد ترمنځ پراته ول او تل يې تجارتي کاروانونو ته مشکلات پيدا کول او قافلې به يې لوټلې. عبدالرحمن خان ليکي چي د شينوارو د ياغيانو له مشر نورمحمدخان سره، د سادو او دادو په نوم، دوه تنه مشهور غله هم يو ځای سول او د شينوارو د لښکرو شمېر ۱۵ زرو تنو ته ورسېدی. سپه سالار غلام حيدر خان مي د هغوی مقابلې ته واستاوه. د سپه سالار او شينوارو د قبايلو تر منځ څلور مهم جنګونه وسول او په ټولو جنګونو کي هغوی ماته وکړه. ياغيانو ته سخت تلفات ورسېدل او د منکو خېلو طايفه ټول قتل سول او چي څه پاته ول هغوی تيراه ته وتښتېدل. امير عبدالرحمن خان حکم وکړ چي د قتل سويو کسانو له سرونو څخه دوه لوی کله منارونه جوړ کړي؛ يو په جلال اباد او بل د شاه محمد د اوسېدلو په ځای کي، چي دوی يې دغه ښورښ ته هڅولي ول. تر څو هر څوک چي دا کله منارونه ويني بيا دغه ډول کارونو ته زړه ښه نه کړي. تاج التواريخ ص ص ۲۳۴-۳۵

د غلجيو ښورښونه د امير عبدالرحمن خان د پاچهی له پيل سره ځکه شروع سوي ول چي امير عبدالرحمن خان، د انګليس او افغان په دوهم جنګ کي، د مجاهدينو يو ستر مشر، غازی محمدجان خان وردګ بندي کړی او د هغه د خوشي کېدلو په برخه کي يې د ملا مشک عالم غوښتنه نه وه منلې. وروسته يې عصمت الله خان جبارخېل، چي د مجاهدينو يو بل غلجی مشر وو، هم بندي کړ او ملا مشک عالم بيا د هغه د خوشي کېدلو غوښتنه وکړه خو امير ورسره ونه منله. ملامشک عالم پخپله هم پر امير باندي بې اعتماده وو او د هغه پر ضد يې تبليغات او وسله وال ښورښ پيل کړ. دې ښورښونو په ۱۸۸۶ کال کي هغه وخت زور واخيست چي د ملا مشک عالم زوی ملا عبدالکريم اعلان وکړ چي ۱۲ زره وسله وال لري؛ او په يوه روايت يې ځان پاچا اعلان کړ. امير عيدالرحمن خان د هغه مقابلې ته لواء مشر سکندر خان او د هغه زوی جنرال غلام حيدر خان اورکزی ور واستول. د جګړې په يوه مرحله کي شاه خان هوتک له ياغيانو سره ملګری سو او د ياغيانو شمېر ۳۰ زرو تنو ته ورسېدی. د همدغه کال په نيمايی کي ښورښيانو ورستۍ ماته وکړه او ډېر سخت تلفات ورته ورسېدل. هغه کتاب ص ص ۲۴۷-۴۹

ډاکټر حسن کاکړ ليکي چي په غو جنګونو کي غلجيو ته ۲۴ زره تنه تلفات ورسېدل خو د امير د عسکرو د تلفاتو په باره کي رپوټ نه دی ورکړه سوی. Kakar P 136

د ملا عبدالکريم په شمول، د غلجيو دوولس تنه مشران وتښتېدل او د وژل سويو کسانو له ۲زرو سرونو څخه په کابل کي يو لوی کله منار جوړ سو. Ibid P123

امير عبدالرحمن خان، ياغيانو ته د بشپړي ماتي ورکولو څخه وروسته، هوتکو او اندړو ته د سزا ورکولو لپاره په سختو اقداماتو لاس پوري کړ. د ده د فرمان په اساس، د هوتکو هر يوه کورنۍ مجبوره وه چي يوه توره، يو توپک او پنځه روپۍ دولت ته جريمه ورکړي. دغه راز يې د اندړو کورنيو ته هم سخته مالي سزا ورکړه. د امير د فرمان په اساس د اندړو هره کورنۍ مجبوره وه چي يو سپر، يوه چاړه، يو توپک او يو آس دولت ته ورکړي او پر دې برسېره يې د اوو کلونو لپاره ماليات ورباندي زيات کړل. د غنمو ګدامونه يې ورڅخه واخيستل او هري کورنۍ ته امر وسو چي عسکرو ته به په خپلو کورونو کي ځای ورکوي، د هغوی ډوډۍ به ورکوي او آسونه به يې ورته مړوي. Ibid P124

امير ټول ټکسونه او ماليات له سره ولګول. د توخو قبيله يې ۸۰ زره روپۍ جريمه کړه او پر افغانستان د برتانيې د يرغل له وخته يې ټول باقيات ورباندي حواله کړه. هوتک يې د حکومتي وظيفو څخه محروم کړل او حکومت رپوټ ورکړ چي له ټولو غلجيو څخه وسلې اخيستلې سوي دي. د تره کو او اندړو د ملايانو تنخواوي يې بندي کړې. Ibid P 136

د هند ويسرا امير ته وليکل چي د غلجيو له ياغيانو سره يوه سوله ايز تفاهم ته ورسيږي؛ او د امير د خوشاله کولو لپاره يې وسلې، مهمات او شل لکه روپۍ ورکړې. خو امير ويل چي د غلجيو په ښورښونو کي د برتانيې لاس دی. امير په يوه خصوصي دربار کي ويلي وه: « انګليسيان بايد دا فکر ونه کړی چي دوی به ګوندي بيا پر افغانستان باندي حکومت وکړي. دوی بايد شکر وباسي او له ما څخه مننه وکړي چي دوی مي بيرته سلامت خپل هيواد ته واستول» البته کله چي د غلجيو ښورښونه وځپل سول نو امير د هند وايسرا ته اطميان ورکړ چي په آينده کي به له غلجيو سره نرم سلوک کيږي. Ibid P 132

پاته لري

[د ليکوال آرشيف]


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ